ژباړه: محب سپين غر نېټه ۲۰۱۱-۰٤-۱۲

# ټوله ګناه د تورو مرچو په غاړه وه

هالنډيانو چې د مصالحو سوداګري يې په ولکه کې وه په پای ته رسېدونکې شپاړسمې پېړۍ کې د تورو دانو [مرچو] بيې لوړې کړې. برېتانيا چې د رامنځته کېدو په حال سترځواک وو، نه يې غوښتل د بيې دغې ډيکټې ته غاړه کيږدي. د برېتانيا په اند هالنډيانو په هند کې ډېر ځوا ک درلود. دغه راز [دوه نور] ښکېلاکګر ځواکونه فرانسه او پرتګال هم هلته پر خوځنده هلو ځلو بوخت وو.

له همدې امله د ۱۵۹۹ کال د سپتمبر پر ۲۴ د لندن ۲۴ سوداګر سره راټول شول چې يوه کمپنۍ جوړه او له هند سره سوداګري پخپل لاس کې ونيسي. د کمپنۍ لومړنۍ پانګه ۷۲ زره پونډه وه چې ۱۲۵ تنو په کې ونډه درلوده. په دې توګه د ختيځ هند برېتانوي کمپنۍ رامنځته شوه. په دې کار سره لومړی د يوه سوداګريز او ورپسې د ښکېلاکګر ځواک په توګه د برېتانيا دراپورته کېدو د بنسټ ډبره هم کېښودله شوه.

په پيل کې انګليسان په رښتيا هم پر سوداګرۍ اخته وو. د ۱٦۰۰ کال د اګست پر ۲۴ کېپتان ويليام هاوکينز او د هغه نورې عملې د «هيکتور» په نامه بېړۍ کې د بمبۍ په شمال کې د سورت په بندر کې لنګر واچاوه. هغه څه چې دوی په هند کې وليدل، پخپلو سترګو يې باور نه شو کولی، لکه خوندورې مصالحې چې په انګلستان کې يې [په يوه ګرام پسې د خلکو سترګې راوتې]، خو دلته د هند په بازارونو کې کوټه کوټه پرتې وې او دغه راز چای، بوره، ګرانبېه تيږې، وريښمين او کشميره ښکلي دستمالونه او ښکلي اوبدل شوي رنګارنګ شالونه.

په اګره کې مغل واکمن، ويليام هاوکينز ته هرکلی ووايه. [د اګرې] اسلامي دربار ډېر ژر پر دې پوه شو چې د برېتانويانو د راتګ موخه لکه د اسپانويانو په څېر [ديني] تبليغ نه دی چې هغه مهال يې له ډېرې مودې راهيسې په سويلي امريکا کې کاوه، بلکې سوداګري ده. د هند او برېتانياد پاچاهۍ ترمنځ اقتصادي اړيکو له يوې نيمې پېړۍ نه زيات په بې ټکره توګه دوام درلود، خو د برېتانويانو حرص ورځ په ورځ زياتېده: نور نو د برېتانيا خول دومره پياوړی شوی و چې هند له خپلو ټولو شتمنيو سره په دغې امپراتورۍ پورې اړه لرله.

سترې برېتانيا له ۱۷۵۷ نه را په دېخوا د هند پر لاندې کولو پيل وکړ. دغه مهال دختيځ هند کمپنۍ د دغه هيواد په لويديځ کې په بمبۍ او د ختيځې څنډې په مدراس او کلکته کې بندري اډې درلودې. د برېتانيا له خوا پر هند باندې د خبټې اچونې د بهير بشپړېدو نږدې يوه پېړۍ وخت ونيو. په پای کې هند تر ډېره ځايه د برېتانيا مستعمره وه. هغه څه چې يوازې د سوچه اقتصادي ګټو په بڼه پيل شوي وو پايله يې بلواکي او د پرديو واکمني راوخته.

د [برېتانيا] په امپراتورۍ پورې [د هند] تړلتيا خپلې نښې هم پرېښودې: د ښکېلاک په ډول او سبک جوړې شوې پرتميني ودانۍ تر اوسه لا د هغه مهال د اغېز څرګندويه دي. خو د هغو زياته برخه د کلنيو موسمي ورښتونو له کبله نړېدلي چې دبيارغونې له پاره يې له ډېره وخته راهيسې د اړتيا وړ پېسې نه موندل کيږي. برېتانويانو د کريکېټ لوبه هم له ځانه سره سويلي اسيا ته راوړه، خو ډېر ژر يې په خواشينۍ سره احساس کړه چې هنديان ترې په دې سپورت کې ډېر مخکې دي. برسېره پر دې هغوی [د هند] سياست ولسواکيز کړ او حقوقي سيستم ته يې هم د برېتانوي هغه له بېلګې سره سم بڼه ورکړه. دغه راز يې انګليسي ژبه هم دود کړه، خو هنديانو هغې ته هم خپل ځانګړی رنګ ورکړ.

ورو ورو ګڼ شمېر هنديانو ځانونه د نوو واکمنو له خوا، چې تر يوه ځايه يې له دوی سره له امپراتوري غرور نه ډک چلند کاوه، تر ستم لاندې احساس کړل. له همدې کبله هنديانو د برابر دريځ غوښتنه کوله. دوی د ختيځ هند کمپنۍ ته نور د زبېښاکګرې (استثماري) واکمنۍ د وسيلې په سترګه کتل.

[په دې لړ کې] پر ۱۸۵۷ کال يو پاڅون تر سره شو: هغو هندي پليو سرتېرو چې [په هند کې يې] د برېتانيا په پوځ کې خدمت کاوه او «سپاهيان» نومېدل، د نوې وسلې له کارولو نه ډډه وکړه. [د هغوی دليل دا و چې] د دغو وسلو کارتوس ګنې د خنځير او غويي پر وازدې غوړ شوي وو او دا کار مسلمانانو او هندوانو دواړو ته سپکاوی ګڼل کېده.

هماغه و چې برېتانوي افسرانو هندي سرتيري، له امر نه د سرغړونې په تور، زندان ته ولېږل. اخوا هندي ولس له دغو بنديانو سره خپل پېوستون څرګند کړ چې په پايله کې يې په بېلابېلو ښارونو کې بيا بياخونړۍ جګړې تر سره شوې. يوازې په ډيلي کې هنديانو په سلګونو اروپايان له تېغه تېر کړل. برېتانوي ټولګي يوازې له زيات زور او ځواک نه په ګټې اخيستنې او د زرګونو کسانو په وژنې سره پر دې بريالي شول چې د سپاهيانو پاڅون وځپي. په دې توګه د هند د ازادۍ لومړنۍ ستره جګړه له ماتې سره مخامخ شوه. اخوا د ختيځ هند برېتانوي کمپني هم له منځه يوړل شوه او له دې وروسته د هند واکمني نوره په مخامخ توګه د برېتانيا په خول پورې وتړل شوه. ان تر


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دې چې له ۱۸۷۷ نه وروسته د بریتانیا واکمنو له خپل لقب سره د«هند دپاچا» لقب هم وتاړه او په سیمه کې یې یو مرستیال پاچا یا ویسرای کېناوه.

خو هندیانو هم د خپلې خپلواکۍ ارمان له لاسه نه ورکاوه: پر ۱۸۸۵ کال یې د کانګرس ګوندجوړ کړ چې تر ډېره ځایه هندوان پکې راټول شوي وو. په ۱۹۰۶ کال کې بیا مسلمانانو د مسلم لیګ ګوند جوړ کړ. دوی ټولو په پیل کې د هندیانو له پاره د زیاتو حقوقو غوښتنه کوله، خو وروسته یې د بریتانویانو د وتلو غوښتنه هم وړاندې کړه. په دې لړ کې مسلمانانو له ۱۹۳۰ کال وروسته د شمېر له پلوه د هندوانو برلاسی ته په پام سره د لومړي ځل له پاره د یوه خپلواک اسلامي دولت د جوړېدو خبره هم را پورته کړه.

دهند د ازادۍ مبارزه د مهنداس کرمچند ګاندي له برکته چې خلکو« مهاتما» یا «ستر روح» باله،په نړۍ کې لاپسې نامتو شوه. نوموړي چې په لندن کې یې د وکالت په څانګه کې زده کړه کړې وه د نه زورزیاتي لار خپله او هڅه یې وکړه چې د ټینګار (مقاومت) او یو لړ نورو سمبولیکو کړنو له لارې بریتانویان وتلو ته وهڅوي. ده غوښتل چې هند باید د یووالي په ساتلو سره خپله خپلواکي ترلاسه کړي.

ګاندي له سیاستوال جواهر لعل هنرو سره په ګډه چې وروسته د هند لومړنی صدراعظم شو د هند د خپلواکۍ د غورځنګ مشري کوله. خو د مسلم لیګ مشر، هوښیار حقوقپوه او سیاستوال محمد علی جناح بیا بر عکس خپل چانس په دې کې لیده چې د یوه اسلامي دولت د جوړېدلو پلار شي.

هغه څه چې [د تېرې پېړۍ] دځلوېښتمو کلونو له نیمایي نه وروسته په هند کې رامنځته شول هغه د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ داسې ډله ییزې وژنې وې چې ساری یې تر هغه مهاله چا نه و لیدلی، ان تر دې چې سیکان هم په دغو جګړو کې ورښکېل شول. هندوانو مسلمانان تورنول چې غواړي هیواد وویشي. مسلمانانو بیا پخپل وار نیوکې کولې چې د هندوانو په تر واک لاندې هند کې تر ستم لاندې دي. یوازې یو بځرګی بس و چې په ټول هیواد کې اور بل شي. دا داسې وخت و چې شپېته زره بریتانوي او دوه سوه زره هندي سرتېرو نه شو کولی هغه مهال دغه درې سوه میلیونی هیواد د خپلو وګړیو له لاسه خوندي وساتي.

د هغه وخت اجباري شړنې او ډله ییزې تښتېدنې ان تر ننه لا د هند او پاکستان د زړو په یاد دي. د هغوی ګڼ شمېر د دې پېښو پېره د هغه وخت پر ښکېلاکګر څواک یانې ستر بریتانیا ور اچوي. د نوموړو په وینابریتانیا په نړېواله دویمه جګړه کې کمزورې شوې، د خپلواکۍ له پاره د هندیانو له غوښتنو او د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د خونړیو جګړو له لاسه نوره ستړې شوې وه چې په پای کې یې له دغې ستړې نیمې وچې نه پښې سپکې کړې او هغه یې خپل برخلیک ته پرېښوده.

داسې برېښېده چې ګاندي ښایي و نه شي کولی د هند د یووالي د ساتنې په اړه خپله هیله پلې کړي. خو جناح خپلې موخې ته ورسېد. په پای کې بریتانویان له هند نه ووتل او د ۱۹۴۷ کال د اګست پر ۱۴ د پاکستان دولت او یوه ورځ وروسته یې دهند جمهوریت جوړ شو. [خو خبره ټوله له تورو مرچو راپیل شوې وه.]

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ